عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۴/۱۷

# انځورګر

د انځورګر د سترګو کسي په څپو کې لامبي

او د ساحل چوپتیا

له ستوني د رنګونو ځني کريغي وهي

نقاش د چوپې تابلو شور په خپلو سترګو اوري

په دې تابلو باندې ميين دی،

له مودو راهيسي

د کوم بېنومه انځورګر

دغه زړه تابلو په مخامخ ديوال نښتي

خدای خبر، څو پېړۍ پخوا

چېرته د کوم سمندر څنډه ښيي

او د نقاش جونګړه

زړه،

بېنظمه،

لړ خيرنه،

خواره.

يوازې يو له رنګه سپين ديوال يي

د ساحلي تابلو ترشا پټ شوی.

نقاش لا ډېر زلمی و

چې د بېنومه انځورګر استاد په دې تابلو يې زړه بايلوده

دغې تابلو نقاش کړ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د انځورګر جونګړه

د غرو لمنو کې

له ختو جوړه

انځورګر هېڅ د سمندر ساحل لیدلی نهدی

د انځورګر وطن د غرونو وطن

نه سمندر شته

نه ساحل پېژني

خو نقاش هره ورځ په مخامخ دیوال

هغي تابلو ته ګوري

چي ترنم د سمندر او مازیګر غړووي

ځو سپین مارغان

او یو خاموشه ساحل

د ځپو سپین ځګونه

او په اسمان کې یې د وریځو خړ او سپین کمرونه

د سمندر سینه پراخه ده

تر لري

تر ناپایه

او بېځنډو افقونو پوري

نقاش له ځانه سره فکر کوي:

د سمندر د ځپو غږ به څومره خوږ لګیږي؟

اسمان به څومره لوی وي؟

سمندري مارغان او وریځې به

غړیږي د باران په ژبه

اخ، چي ډېر لري به د شپې تیاره کې

د باد په مټو د رواني بېړی

د څراغونو ځلا څنګه ښکاري؟

واه چي د باد او د توپان په شپو به

سمندر څومره هیبتناکه ایسي؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

او چي اسمان کي وريځي نه‌وي نو د لمر وړانګي به

لاژوردي څپو کي

زرين تارونه کرښي کرښي اوبي

نقاش په مخامخ ديوال د سمندر تابلو کي

د طبيعت له موسيقي سره په ټال کي زانګي

او د څپو د خيالي شور له ترنم سره د خوب په مينه

بنو ته غېږ ورکوي

انځورګر هره شپه همداسي

د تابلو په ننداره کي زنګېدلی د خوب غېږ ته ورځي.

د دنګو غرونو د وطن انځورګر

د سمندر د عشق څپو کي ډوب دی

او هره ورځ چي رنګ راواخلي او پر سپينه پرده

مويک راوګرځوي

نو د خيالي سمندر

د يوې څنډې انځور

له يوه بله اړخه ځان څرګند کړي

يوه تابلو کي توپاني څپي له وربځو سره غېږې موښي

په بل انځور کي سمندر ارام دی

او زرين لمر ته په ارام پريوتی

يوځای نقش شوي دي سپين‌بني مارغان

بل ځای ارامه ساحل

چي د څپو ځګلنو شونډو ته د شګو تلوسه ښکلوي

يوځای بېړی د توپاني څپو ترمنځ ايساره

له يوې ماتي کړکۍ

روستی څراغ ځلوي

لکه د تللي مساپر په حافظه کي د شهې د روستی اوښکي ځلا

د غرني وطن ښاريان د انځورګر د تابلوګانو ننداري ته راځي

دوی سمندر يوازې دلته ويني


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

هر ښاري غواړي په خپل کور کې سمندر ولري

د هر ښاري د ناستې خونې کې یوه ننداره

د سمندر د یوې څنډې ښتې

د چا ارامه زرین لمر ته د څپو انځور په زړه خوړ شوی

د چا له - خپل نارامه ذهن سره سم- توپاني شوی سمندر خوښیږي

د چا د ژوند ماته بېړۍ خوښه ده

بل غواړي واوري له اسمانه د مارغانو اواز

چې پر څپو الوځي

نقاش تمامه ورځ لګیا دی سمندر رسموي.

«»«»«»«»«»«»«»«»«»«»

انځورګر ډېرې سکې وګټلې

هره تابلو یې په زرینو سکو وپلورله

نور یې د غرونو په لمن کې

په زړه، خواره جونګړه کې ژوند نهتیریږي

نقاش د زړو همیانی له ملا نه وتړله

او یو سهار

تر لمرخاته مخکې د لویې لارې ستونې وخوړ

د غرو لمن کې ښار

د خپل نقاش روستې ګامونه

په وچو شونډو ښکل کړل

د ښار په هر کور کې د ورک سمندر ښه لا رازوړنده وه

هیڅوک خبر نهشول

چې ځوان نقاش په کومه ولاړه؟

«»«»«»«»«»«»«»«»«»«»

باد لا شغیږي او تبجنه هوا

لکه شبنم د مساپرو پر بارخو پریوځي

د پسرلي یوه رنګینه ورځ ده

ستړي نقاش له بېړۍ ګام کېښوده



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پستو شګو په ساحل کې يې لومړی پل داسې نرم ښخ شو

لکه د ورکې معشوقې غاړه چې

له بېلتانه روسته لومړی ځل ښکل کړي

شاته بې‌پايه سمندر

او ترمخ ښکلی ساحل

د يوه شنه ځنګله له پيله مخکې

د انځورګر له خوبو جوړه مانۍ

د سمندر د څپو شور ته جوړه

نقاش د خپل خيالي جنت کړکۍ ته ځير ولاړ دی

نظر يې لرې د بې‌پايه سمندر په افق سترې ګرځي

د څپو شور او شرهار ته غوږ دی،

او

له نمجنې هوا

ژوره ساه راکاږي

نقاش د خپل ياغي معشوق غېږې ته ورسېده

او ګاونډی شو د نيلي سمندر.

سپرلی يې ټولې زاړې وشمارلې

چې لمرخاته ته تللي

د بام فضا يې کغ کغا نه ډکه

سمندري مارغان په ورا راغلي

لرې ځنګله کې ونې ريږدي خپلو سيورو ته په ډنډ اوبو کې

او يوه سپينه بته

لکه سفر نه هېره شوې بېړۍ

چې په ساحل ويده وي

نقاش د بل سپرلي په تمه ناست دی

د توپاني شپو په بريښنا کې سمندر غورېږي

لکه يو مست خونړی ديو چې په اتڼ سر وي

باران په شړک وريږي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د افق کرښه د یاغي څپو تر شا ورکه شي

اوبه چي کواړې کواړې اوړي، لکه غرونه ښکاري

لرې

ډېر لرې

د څپو د کواړو کواړو غرونو منځ کې یو څراغ ځلیږي

لکه کاروان کي چي د تللي معشوقي چارګل سپوږمی ته ښکاري

اوس انځورګرپوهیږي

چي له توپان نه روسته

ستړی ستومانه سمندر

- لکه په خوب کي وېرېدلی ماشوم -

د وریځو منځ کي ایکي یو ستوري ته

خپله کیسه

په نیمه ژبه وایي.

اوس انځورګر پوهیږي

سبا به لمر وي

او مارغان به یې پر بام کغیږي

اوس سمندر تکرار دی

د خپل بې‌پایه عظمت او ښایستونو تکرار

داسي تکرار چي د نقاش د حافظې په تابلو

د رنګ

او نور

او سیوري

په تناسب کي راتاویږي او رنګیږي لکه خوب د ماشوم

د نقاش سترګي د بې‌پایه سمندر افق کي خښې دي،

خو

هېڅ نه‌ویني

په سمندر کي ښکلا پاتي نه‌ده

انځورګر تولهٔ ځښلي

سمندر وچ دی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ایکي یوڅاڅکی شراب نه‌لري

چي د نقاش د خیال خمار پرې مات شي.

ښایي نقاش کوڼ شوی

هېڅ د څپو شور و شر نه‌اوري اوس

او سپین‌ښکي مارغان

له کږ کږا لوېدلي.

نقاش چي سپینه پرده مخ ته کېږدي

او د رنګونو په ګډون کي مویک ونڅوي

سپینه پرده په رنګ رنګینه شي

د سیوري او رڼا جګړې ته

خو په انځور کي نه اوبه وي

نه څپي

نه مارغان

نه سمندر وي

نه اسمان کي يي د وریځو کاروان.

اوس د نقاش له ذهنه

یوازې غرونه او کمرونه تاو دي

اوس د نقاش لیمه د وچو او زیړو ګاګرو چینو ته تږي

اوس د نقاش غوږونه

د سمندر د څپو شور نه‌اوري

اوس انځورګر په رنو سترګو،

د کوم لرې غروب سرې رڼا ته خوب وړی دی.

نقاش د زانو په کتار پسي اسمان ته ګوري

بل پسرلی پر لار دی

بېرې به راشي

او نقاش به بېرته ستون کړي په ستومانه اوړو

هلته

چي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

غرونه

هسک دي.

**۱۴- اپریل - ۲۰۲۶**




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ